# دقوم، سیمی، ژبی اورنګ
# دتعصّب اصلاح

اِرشادات

شیخ العرب والعجم عارف باللّٰہ

حضرت اقدس مولانا شاہ حکیم محمداخترصاحب دامت برکاتہم

خپورونکی

شعبہ نشرواشاعت خانقاہ امدایہ اشرفیہ/اشرف المدارس

ګلشن اقبال ۲ کراچی

www.khanqah.org

# مقدمه

دغه وخت په ټوله دنیا کښې دکافرانو پرډول د "قومیت وصوبائیت او درنګ او ژبې" پربنیاد باندی مسلمان چی څه رنګه په خپل مینځ کښې په اختلاف او انتشار(جلاوالی) اخته دی چی دقرآن اوحدیث دتعلیمات څخه بلکل خلاف دی. ددې فتنې داصلاح دپاره دشیخ العرب والعجم عارف بالله حضرت اقدس مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب دامت برکاتهم دکتابو څخه ددې فتنې په باره کښې ملفوظات(فرمانونه) راټول کړه او یوه مختصره رساله "دقوم سیمی ژبې اورنګ دتعصّب اصلاح " چاپ سوی ده.

دنن سبا دحالاتو په خاطر دغه رساله ډیر تر ډیره چاپ کړی او تر نورو خلکو پوری ئې ورسوی چی تعصّب او نفرت لیری سی او په خپل مینځ کښې محبت یی پیدا سی.

**هر سړی ته ددې رسالې دعام چاپولو اجازه ده.**

بسم اللہ الرحمن الرحیم

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّی عَلٰی رَسُوْلِهِ النَّبِیِّ الْکَرِیْم

۱۶شعبان المعظم۱۴۲۷ مطابق۱۰ستمبر۲۰۰۶مازدیگردیکشنبې ورځ

# دژبې او رنګ اختلاف دالله تعالیٰ نښانې ده

ارشاد ئې وفرمائلې چې ټوله مسلمانان ورونه دې.

﴿اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ﴾

(سورةُ الحجرات، اٰية:۱۰)

څوک دافریقه څخه راغلی دی، څوک دلندن څخه، څوک دافغانستان څخه، څوک دبلوچستان څخه، څوک دپنجاب څخه، څوک دسِند څخه، یودکوم ځای څخه راغلی دی بل دکوم ځای څخه لاکن زه ټوله خپل ورونه بولم. الله تعالیٰ فرمائی

﴿وَمِنْ اٰیٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِکُمْ وَاَلْوَانِکُمْ﴾

(سورةُ الروم، اٰية:۲۲)

دژبی او رنګ اختلاف دا زما نښانی دی،که څوك دخدای نښانی حقیره(کمتره)بولی نو دهغه ډیره ناپوهی ده، هغه ډیر بې عقل سړی دی. لوی لوی تعلیم یافته خلګ دژبی او رنګ په اختلاف سره یو او بل حقیر بولی. خلګ دګناه حقیقت نه پیژنی، که څوك دخدای نښانی نه منی، انکار ئی کوی نو دا کفر دی. څوك پنجابی وائی، څوك سِندهی نو اُردو ژبی والا خاندی، اُردو ښه ژبه خوده لاکن دا تر ټولو ژبو ښه او افضله بلل روا نه ده او یوه ژبه هم حقیره(کمتره) بلل روانه ده.انګریزی ژبه هم باید حقیره ونه بلل سی، که یوانګریز مسلمان سی نوبه څه وائی؟ انګریزی خو به وائی.

بس چی څومره ژبی دی ټوله ښه وبوله، که ته په لندن کښی پیداسوی وای نوبه دی انګریزی ویلائی، که په پنجاب کښی پیدا سوی وای نوبه دی پنجابی ویلائی، که په سِند کښی پیدا سوی وای نو به دی سِندهی ویلائی، لهٰذا کومه ژبه چی ستا وای آیا هغه دی حقیره بلله؟ لهٰذا هیڅ ژبه حقیره مه بوله. کله چی موږ بنګله دیش ته ولاړو نو هیڅکله مو یو بنګله

دیشی حقیر ونه بولی، په دې خاطر ټوله بنګله دیشان موعاشقان سول ځکه چی په ماکښی قوم پرستی نسته، تعصّب نه درلودل دا خبره به ډیره کمه په نظر درسی. زما څومره دوستان دپنجاب دی لاکن دهغو پنجابی ماته خوند راکوی.

## قوم پرستی.......... دبدی خاتمی ذریعه ده

دخپل زړه جائزه اخلی چی دقوم پرستی یوه ذره خو مو په زړه کښی نسته. که دقوم پرستی یوه ذره هم په زړه کی ده نو د بدی خاتمې اندیښنه ده. په یوه غزا کښی یوسړی په ډیره دلاوری سره جنګیدی، یوه صحابی دهغه صفت وکړی نو رسول اللّٰه ﷺ وفرمایل چی دغه دوږخی دی، هغه صحابی په هغه پسی سو په آخره کښې ولیدی چی هغه زخمی سو او دزخمو تاب یی نه راوړی په خپله توره ئی ځان مړ کی، صحابی راغلی دا کیسه یی رسول اللّٰه ﷺ ته وکړل او پوښتنه ئی ځنی وکړه چی یا رسول اللّٰه ﷺ دا څنګه کیسه ده؟ رسول اللّٰه ﷺ ارشاد وفرمایلی چی دا سړی د اسلام دپاره نه دتعصّب دپاره جنګیدی چی زما د قبیلې(قوم) نوم به وی. بس ښه پوه سی

چی تعصّب دوږخ ته وړونکی دی، ژبه او رنګ حقیر بلل دوږخ ته د وړلو ذریعه ده.

دا مضمون خپور(عام) کړی، ددی به ډیره فائده وی، نن سبا هرځای ددې دخپوریدو ضرورت دی. هر مسلمان دی دغه مضمون مخته خپور کړی. یوه ژبه حقیره مه بوله، دژبی او رنګ په خاطرڅوك حقیر(کم) بلل ددې دلیل دی چی دا سړی دخدای تعالیٰ دنښانی منکره دی. څونه خلګ چی دلته موجود دی ټوله دی دغه مضمون خپورکړی **وَاخُتِلاَفُ اَلُسِنَتِكُمُ وَاَلُوَانِكُمُ** سړی دخپل پلار دنښانی عزت کوی هغه ته په کتلو سره پلار یاده وی او ژاړی چی دا زما دپلار نښانی ده. هغه بنده څومره بې عقل دی کوم چی دالله تعالیٰ نښانی دجنګ ذریعه جوړه وی. دټوله دنیا مسلمانان یو دبله سره وروڼه دی که دلندن وی، که د یوګینډا وی، دکندهار وی، که دکابل وی که دمزار، توران او سپینان خدای تعالیٰ جوړه وی، خپله نه جوړیږی، خدای تعالیٰ یی پیدا کونکی دی. درنګ او ژبی جلاوالی دالله تعالیٰ دقدرت نښانی ده. څوك چی دقرآن

پاك پریوه آیت باندی ایمان رانه وړی هغه دقرآن پاك منکره دی.

۱۶صفرالمظفر ۱۴۲۳ مطابق ۲۷اپریل ۲۰۰۲ دسې شنبې ورځ ماښام

## دژبو او رنګو اختلاف دالله تعالیٰ دپیژندنی ذریعه ده

اوس یوه نوې خبره واوری! چې شاید زما څخه ئې واوری. په مَلاوی ښار کښی یوه شپه پر دوې بجې می سترګی روڼې سوی نو سپی غپل ما فکر وکړی چې څه خبره ده چې ددې ځای سپی هم په هغه ژبه غاپی په کومه ژبه چې دکراچی سپی غاپی. سپیان پیشی او ټوله حیوانان دهر وطن دا یو رنګه ویل کوی. د انګلستان سپی دا نه وائی چې I am a dog او د انګلستان پیشی دا نه وائی چې I am a cat بلکه دهر وطن پیشی به میاؤ وائی. دبنګله دیش یوه عالم ټوکه وکړه چې پیشی چې کوم میاؤ وائی په اصل کښی وائی چې مې آؤ(یعنی زه درسم)؟ یعنی پر دسترخوان باندی څه یوازی یوازی خوراك کوې مې آؤ یعنی زه درسم؟ لاکن دانسانانو ژبی دهر وطن او هر علاقې دا جلا جلا دی څه وجه ده؟ په زړه کښی راغله چې الله تعالیٰ انسانان دخپل معرفت (پیژندنی) دپاره پیدا کړی دی

پدې خاطر دهغو په ژبو کښې ئی اختلاف راوستی چی په دغه اختلاف سره هغه ما وپیژنی چی واه زما ربّه ستا څنګه قدرت دی چی تا څومره ژبی پیدا کړی دی. اللّٰه تعالیٰ ارشاد فرمائی

﴿وَمِنْ اٰیٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ﴾

(سورۃُ الروم، اٰیة: ۲۲)

ستاسو دژبو په اختلاف او درنګ په اختلاف کښې زما نښانی دی او نښانی وحیوانانو ته نه ورکول کیږی ځکه چی په هغو کښې داللّٰه تعالیٰ دپیژندنی صلاحیت هیڅ نسته کنې د انګلستان پیشی به انګریزی ویلائی او دپاکستان پیشی به اردو ویلائی او د بنګله دیش سپی به بنګله ویلائی لاکن دټوله دنیا حیوانان یو رنګه ویل کوی دپاکستان خر هغه سی ږغ کوی لکه دانګلستان خرچی ږغ کوی او انسانان ئی ځکه چی د خپل پیژندنی دپاره پیدا کړی دی پدې خاطر دهغو په ژبه او رنګ کښې ئی اختلاف کړی دی لاکن دا زموږ ناپوهی ده چی موږ دغه دفضیلت سبب وبولو چی زه سپین یم ته توریی.

معلوم سول چی دژبی او رنګ اختلاف دجنګ کولو دپاره نه دی دخدای دپیژندنی او محبت دپاره دی. که پلار خپله یوه نښانی ورکړی نو اولاد دهغه په کتو سره پلار یاده وی یا که په خپل مینځ کښی سره جنګیږی؟ اللّٰه تعالیٰ خو اختلافِ السنه او اختلافِ الوان ته خپله نښانی وائی او موږ پر ځای دخپل مالك دیادولو پر هغه سره جنګیږو او هغه دخپلو خپلو فضیلت(لویی) سبب جوړه وؤ.پدې خاطر دوهم ځای ئی وفرمایل

﴿اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰكُمْ﴾

(سورۃُ الحجرات، اٰیۃ:۱۳)

ستاسی فضیلت او کرامت پر ژبو او رنګو باندی نه دی پر تقویٰ دی ځوك چی څومره ډیر متقی وی اللّٰه تعالیٰ ته نژدې هغومره مکرم (دعزت خاوند) دی.

۲٦جمادی الثانی۱٤۱۹ مطابق ۱٦اکتوبر۱۹۹۸دجمعې شپه ماښام

## دژبی او رنګ څخه لوړ یو بې مثاله قوم

لهٰذا ځوك چی ددین څخه بی وفا سول او اللّٰه او رسول ئی

پریښول او وئی ځغستل او بیرته یهودی او عیسائی سول نو هیڅ فکر مه کوه **فَسَوۡفَ یَاۡتِی اللّٰہُ بِقَوۡمٍ یُحِبُّھُمۡ وَیُحِبُّوۡنَہٗ** موږ په نژدې وخت کښې دعاشقانو یو قوم پیدا کوو چی دهغو سره به موږ محبت کوو او هغه به زموږ سره محبت کوی او قوم ئی نازل کړی دی قومونه ئی نه دی نازل کړی ددې څخه معلوم سول چی په ټوله کائینات کښې چی څومره خلګ دالله تعالیٰ سره محبت کونکی دی هغه ټول یو قوم دی. که څه هغه دملاوی وی، که دپاکستان وی، دامریکا وی که د افریقه وی، یا دافغانستان وی، تور وی که سپین وی دټوله عالم دخدای عاشقان او دالله تعالیٰ سره محبت کونکی ټوله یوقوم دی.

که دالله تعالیٰ په عاشقانو کښې ډیر قومونه وای او د تور او سپین فرق وای نو الله تعالیٰ به دقوم لفظ نه وای نازل کړی قومونه به ئی نازل کړی وای چی موږ به دخپل عاشقانو قومونه نازل کړو لاکن **فَسَوۡفَ یَاۡتِی اللّٰہُ بِقَوۡمٍ** ئې وفرمایل چی په ټوله دنیا کښې چی زما څومره عاشقان دی هغه ټوله

یو قوم دی ، دعاشقانو قوم جلا جلا نه وی.

## دالله تعالیٰ عاشقان ټول یو قوم دی

هو دمحبت دتعبیر(ښکاره کیدو) دپاره دهغو په ژبو او رنګ کښې اختلاف دی دا دلیل داختلافِ قومیت نه دی دا اختلافِ تعبیرات(مخالفت دښکاره کولو) دی . موږ غواړو چې په جلا ژبو زموږ نوم واخستل سی او دجلا رنګو خلګ موږ یاد کړی، دا زموږ انتظام دی. اختلافِ السِنه او اختلافِ اَلوان یعنی دژبی او رنګ په اختلاف کښې موږ خپله نښانی او دخپل قدرت تماشه ښکاره کړې ده چې څوك بنګالی وائی، څوك انګریزی وائی، څوك ګجراتی وائی او څوك پښتو.

﴿وَمِنۡ اٰیٰتِهٖ خَلۡقُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَاخۡتِلَافُ اَلۡسِنَتِکُمۡ وَاَلۡوَانِکُمۡ﴾

(سورۃُ الروم، اٰیۃ:۲۲)

ستاسو رنګ او رنګت او ستاسو ژبی چې جلا جلا دی دا زما نښانی ده، لهٰذا ددې څخه دافکر مه کوی چې زموږ دعاشقانو څو قومونه دی. درنګ او ژبی په اختلاف سره دقوم جلا

کیدل نه لازمیږی. څوك چی زموږ سره محبت کوی که څه هم هغه دهر رنګ اود هر ژبی وی یو قوم دی، دټول دنیا عاشقان یو قوم دی، لهٰذا که ستا سره یو مَلاوی یوځای سی، افریقائی یوځای سی، آسیائی یوځای سی، هندوستانی یوځای سی، ګجراتی یوځای سی یا افغانی، تاجك یا اُزبك یوځای سی لاکن هغه داللّٰه او رسول سره محبت کوی دهغه سره معانقه(دغیږ روغبړ) وکه، محبت ورسره وکه چی واه زما ګرانه زه او ته دیوې برادری یو، دلته هیڅ رقم اختلاف نسته. دټوله عالم دخدای عاشقان یو قوم دی په دلیل کښی دقرآن پاك آیت درته وړاندی کوم، دمَلاوی عالِمان دلته موجود دی، دجنوبی افریقه عالِمان موجود دی اللّٰه تعالیٰ فرمائی **فَسَوۡفَ یَاۡتِی اللّٰہُ بِقَوۡمٍ** زه به یو قوم پیدا کړم دهغوبه څه ښه والی وی؟ **یُحِبُّهُمۡ** اللّٰه تعالیٰ به دهغو سره محبت کوی او **وَیُحِبُّوۡنَهٗۤ** او هغه خلګ به داللّٰه تعالیٰ سره محبت کوی.

نو داللّٰه تعالیٰ دعاشقانو دقوم اوله علامه دا ده چی اللّٰه تعالیٰ به دهغو سره محبت کوی او هغه به داللّٰه تعالیٰ سره

محبت کوی او په **بِقَوُمٍ** کښې چې کومه " با " داخله ده دغه **اَتٰـی یَـاۡتِی** چې لازم وه هغه متعدی کوی. څه مطلب ئې سو؟ چې زما عاشقان دخپل ځانه څخه نه جوړیږی، زموږ دطرف څخه عاشقان جوړیږی. پدې خاطر دغه " با " دا معنٰی پیدا کوی چې موږ ئې راولو دخپل عاشقانو یو جماعت او قوم چې هغه به موږ خپل عاشقان جوړه وؤ.

اللّٰه تعالٰی چې دچا په قسمت کښې خپل عشق او محبت کښیږدی هم هغه داللّٰه تعالٰی عاشق وی، دچا سره چې اللّٰه تعالٰی محبت کوی هغه داللّٰه تعالٰی سره محبت کوی، دا ډیر خوش نصیبه خلک دی دا ډیر دقسمت خاوندان دی پاچاهانو ته دا قسمت نه دی ورپه نصیب که خدای ئې هیر کړی دی نو پاچا ټوله ژوند په خپله پاچاهی کښې پریشانه دی، شاهی تاج ئې پرسر دی او په سر کښې ئې د سردرد دی. دخدای د دوستانو په زړو کښې د نور دریاب بهیږی او دشاهانو په سرو کښې د اپوزیشن(حزبِ مخالف) دسوټی څخه دسر درد جوړ وی، شاهی تاج ئې پر سر او خپله دسلطنت پر

چوکی باندی او ترچوکی لاندی د اپوزیشن (حزبِ مخالف) دسوړی فکر هر وخت په پریشانی کښی اخته کړی وی.

۹ رمضان المبارک۱۴۱۸ مطابق۸ جنوری۱۹۹۸ سهاردپنج شنبې ورځ

## د عاشقانو قومیت

دمثنوی د درس په وخت کښی ئې ارشاد وفرمایلی چی اللّٰه تعالیٰ آیت **يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗ** په نازلولو سره ئې راوښول چی زه دخپل عاشقانو سره محبت کوم او دوی هم زما سره محبت کوی لاکن **قَدَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی مَحَبَّتَهٗ عَلٰی مَحَبَّةِ عِبَادِهٖ لِيَعْلَمُوْا اَنَّهُمْ يُحِبُّوْنَ رَبَّهُمْ بِفَيْضَانِ مَحَبَّةِ رَبِّهِمْ** اللّٰه تعالیٰ خپل محبت دخپل بندګانو دمحبت تر مخه بیان کړی چی زما بندګان پوه سی چی دهغو چی کوم محبت زما سره دی دا هم زما دمحبت فیض(برکت) دی.

دا آیت دمرتدو په مقابله کښی نازل سوچی ځوک مرتد سول دا بې وفا وه دهغو زما سره محبت نه وو، دا دمحبت خاوندان نه وه اوس ددوی په مقابله کښی **فَسَوْفَ يَاْتِی اللّٰهُ بِقَوْمٍ** نازلوم چی زه به یو قوم دعاشقانو پیدا کړم چی دهغو سره

به زه محبت کوم او هغه به زما سره محبت کوی.معلوم سول چی دعاشقانو وجود دالله تعالیٰ دطرفه څخه د **فَسَوُفَ یَأْتِی اللّٰهُ** ظهور(ښکاره) دی او دا سلسله به تر قیامته پوری وی ځکه چی په **اَتُیــان** لفظ کښی خو **سَوُف** دی لاکن دهغه تسلسل نه دی مات سوی لهٰذا که نن هم څوك دالله تعالیٰ په محبت کښی مست وی یا څوك پر خپل د خدای دوست پیر باندی عاشق وی نو پوه سی چی دا د **فَسَــوُفَ یَــأْتِــی اللّٰهُ بِقَوُمٍ** یو غړی دی، کوم قوم؟ د **یُحِبُّهُم وَیُحِبُّوُنَهٗ** قوم، دا یو قوم دی، خپل عاشقان خدای تعالیٰ یو قوم بللی دی.

لهٰذا موږ یو قوم یوکه څه هم څوك پنجابی، څوك بنګالی، څوك هندوستانی، څوك فارسی، څوك عربی، څوك پښتون، څوك اُزبك، څوك تاجك وی د زرهاؤ هیوادو وی د زرهاؤ ژبو وی مګر موږ جلا قومونه نه یو هم یو قوم یو. معلوم سول چی قومیت په وطنو نه جوړیږی، معلوم سول چی قومیت په رنګ، نسل او ژبو نه جوړیږی په ملکو، علاقو، خاندانو او قومونو نه دی دالله تعالیٰ په عشق سره قومیت جوړیږی. په دنیا

کښنی چی څومره دخدای عاشقان دی ټوله یو قوم دی که دهر وطن اوهر علاقې دخدای عاشقان جلا جلا قومونه وای نو اللّٰه تعالیٰ به **فَسَوْفَ يَأْتِي اللّٰهُ بِأَقْوَامٍ** نازل کړی وای چی موږ به ډیر قومونه پیدا کړو لاکن **فَسَوْفَ يَأْتِي اللّٰهُ بِقَوْمٍ** واحد ئې په نازلولو سره راوښول چی دټوله عالم عاشقان یو قوم دی، هر څوك چی دخدای عاشق وی هغه زموږ په قوم کښې داخل دی او څوك چی دهغه عاشق نه دی هغه زموږ دقوم څخه نه دی که څه هم هغه زموږ دوطن وی که څه هم زموږ نژدې قریب وی، زموږ وینه، زموږ ژبه، زموږ ملك، زموږ صوبه، زموږ علاقه زموږ قوم نه دی.

زموږ قوم دخدای دعاشقانو څخه جوړیږی، ددې قومیت دجوړیدو طریقې دوې دی یو **يُحِبُّهُمْ** او دوهم **يُحِبُّوْنَهٗ** یعنی دچا سره چی اللّٰه تعالیٰ محبت کوی او څوك چی داللّٰه تعالیٰ سره محبت کوی دا قوم هغه دی کوم چی دقومو خالق ئې نازله وی، دامریکا، انګلستان او دټول دنیا کافران دغه قوم څه پیژنی، ددوی قومیت خو درنګ، نسل، ملك، قوم او دژبو د

اختلاف پر بنیاد باندی جوړیږی چی د هغه نتیجه بُغض، نفرت او دښمنی ده. پیداکونکی پوهیږی چی قومیت څه شی دی، چا چی موږ ټول پیدا کړی یو دهغه راښولی قومیت معتبره او مُهم دی که ددې کافرانو جوړسوی قومیت؟ ددې قوم خاص ښه والی رنګ، نسل ژبه او ملك نه دی، ددې خاص ښه والی **یُحِبُّهُمْ وَیُحِبُّوْنَهٗ** دی چی دا قوم دالله تعالیٰ سره محبت کوی او الله تعالیٰ ددوی سره محبت کوی.

لاکن الله تعالیٰ اول **یُحِبُّهُمْ** وفرمائلی چی الله تعالیٰ ددوی سره محبت کوی مګر څنګه معلوم سی چی الله تعالیٰ ددوی سره محبت کوی؟ د **یُحِبُّهُمْ** ضمیر **هُمْ** کسان اوس نه سې معلومه وای ځکه چی د وحی نازلیده بند سول، اوس جبرئیل علیه السلام نه سی راتلای په قطعی توګه ئې نه سې معلومه وای چی د فلانکی فلانکی کسانو سره الله تعالیٰ محبت کوی. بیا دالله تعالیٰ دمحبت معلومولو اوس کومه آله ده، ځکه چی دالله تعالیٰ محبت د خپل بندګانو سره پټ دی لاکن دبندګانو محبت دالله تعالیٰ سره خو ښکاره دی.

عشقِ من پیدا و دلبر ناپدید

یعنی زما عشق خو ښکاره دی لاکن زما محبوب(اللّٰه تعالیٰ) پټ دی زما عشق یعنی اودس کول، لمونځ کول، روژه نیول، طواف کول، جهاد کول، سر قربانول ټول ښکاره دی مګر محبوب(اللّٰه تعالیٰ) پټ دی

در دو عالم ایں چنیں دلبر که دید

په دواړو جهانو کښې داسې محبوب را ښکاره که چې هغه ئې لیدلی هم نه وی لاکن په یوه ورځ کښې اویا شهیدان د اُحد په لمن کښې پراته دی. دغه رنګه نن هم دبندګانو محبت خو زما سره ښکاره کیږی لاکن اې دنیا والو! د **یُحِبُّهُمْ** علم به تاسو ته څنګه وسی، ته به څنګه پوهیږی چې زه هم دهغو سره محبت کوم ځکه چې د وحی نازلیدل بند سوی دی نو لهٰذا مخ ته ئې دلیل موجود دی **وَيُحِبُّوْنَهٗ** کوم خلګ چې زما سره محبت کوی نو پوه سی چې زه هم د هغو سره محبت کوم پر چا چې د **يُحِبُّوْنَهٗ** نښانی ووینې نو پوه سی چې دا زما دمحبت فیضان(برکت)دی. **يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗ** اللّٰه تعالیٰ په مضارع

نازلیدو سره را وښول چی زما عاشقان به په موجود حال کښی هم زما وفاداره دی او په آئینده کښی به هم زما وفاداره وی. دغه آیت دا دلیل ورکوی چی دمحبت دخاوندانو په صحبت کښی باید وه وسیږو چی دالله تعالیٰ دائمی(همیشه) وفاداری حاصله سی.

ددې آیت نازلیدل دټوله عالم په عاشقانو کښی د رابطې او دمحبت دزیاتوالی ضامن دی ځکه چی کله دوی ته معلوم سی چی موږ ټول یو قوم یو نو هر قوم خپل قوم خوښوی. کومو بچیانو ته چی معلوم وی چی موږ دیوه پلار اولاد یو نو دهغو په مینځ کښی محبت وی او دچا تعلق چی دپلار سره کمزوره وی دهغو په مینځ کښی جنګ وی، څوك چی دالله تعالیٰ دمحبت څخه محرومه دی هغه په خپل مینځ کښی جنګیږی او دمحبت خاوندان ځکه چی پوهیږی چی موږ یو قوم یو، یو ځان یو، یو بدن یو پدې خاطر دهغو پر زړه او بدن باندی دالله تعالیٰ محبت غالبه وی. دیوه قوم په احساس سره په محبت کښی پخپله زیاتوالی راځی. په ټوله دنیا کښی چی دیو

ملك، علاقې يو دخداى دوست پيدا كړى نو هر دخداى دوست دهغه محبت محسوسه وى، هم دغه سبب دى چى دخداى دعاشقانو تر مينځ هيڅ وخت جنګ نه كيږى يو عاشق دبل عاشق په ليدو سره مست سى ځكه چى دا د **فَسَوْفَ يَأْتِي اللّٰهُ بِقَوْمٍ** غړى دى. وواياست! آيا دا علم پر (اختر) باندى داللّٰه تعالىٰ عظيم فضل نه دى چى دقرآن پاك دآيت څخه دتصوف مسئلې راوزى او نن په ژوند كښى اول وار د **يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗ** څخه دعاشقانو يو قوم كيدل اللّٰه تعالىٰ په زړه كښى راواچول او زما زړه وائى چى اللّٰه تعالىٰ (اختر) ددغه علم دپاره خاص كړيدى شايد چى ديو چا ذهن ودغه طرف ته تللى وى چى داللّٰه تعالىٰ هر عاشق كه څه هم دهر ملك ، هر علاقې ، هر رنګ، هر نسل وى دا ټول په يو قوم كښى داخله دى، پدې خاطر اللّٰه تعالىٰ **فَسَوْفَ يَأْتِي اللّٰهُ بِقَوْمٍ** ئې نازل كړى **بِاَقْوَامٍ** ئې نه دى نازل كړى. دقرآن پاك علم هيڅ حد نه لرى چى دكلام پاك خاوند(اللّٰه تعالىٰ) بې حده دى نو دهغه دكلام رازونه او ښه والى به څنګه حدولرى، دبې حده ذات هر صفت هم بې حده

وی او دا خبره موهم باید په ذهن کښې وی چې دا تفسیر نه دی بلکه دقرآن پاك رازونه دی.

۳ربیع الاول ۱٤۱٤ مطابق ۲۲اګست ۱۹۹۳ سهار ۱۱ بجې دیکشنبې ورځ

## دخاندان او قومو مقصد پیژندنه ده افضلیت او فخر کول نه دی

نن حضرت والا په مجلس کښې دغه آیت وویلی

﴿**اِنَّاخَلَقْنَاکُمْ مِّنْ ذَکَرٍ وَّ اُنْثٰی وَجَعَلْنَاکُمْ شُعُوْبًا وَّقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوْا**﴾

(سورۃُ الحجرات،اٰیۃ:۱۳)

حق سبحانه وتعالٰی ارشاد فرمائی چې ما تاسی دیوه نر او ښځې څخه پیدا کړی یاست یعنی با با آدم علیه السلام او بی بی حوا علیها السلام څخه **وَجَعَلْنَاکُمْ شُعُوْبًا وَّ قَبَائِلَ** او ما تاسی په جلا خاندانو کښې تقسیم کړی یاست لاکن دا تقسیم دفخر کولو دپاره نه دی بلکه ددې مقصد دی **لِتَعَارَفُوْا** چې تاسی یو او بل وپیژنی لاکن موږ پرځای دپیژندنی افضلیت

او فخر کول شروع کړل ځوك چی پټیل(یوقوم) دی هغه وائی چی زموږ په مقابله کښی ټول کهټیل دی یعنی بې کاره دی، ځوك لمبات (یوقوم) دی ځوك ګنګات (یوقوم) دی. ددې آیت څخه دا مسئله راووتل چی پرخپل خاندان باندی، پرخپل برادری باندی، پرخپل لقبو باندی فخر کول ناپوهی ده کوم چی دپیژندنی دمقصد خلاف دی. دغه وخت زه بس دا یوځه نصیحت کوم چی د **لِتَعَارَفُوْا** خیال وساتی. فخر کول او ځان افضل بلل جائز نه دی ځکه چی د شعوب او قبائل(قوم) دفرق څخه دالله تعالیٰ مقصد دادی چی په خپل مینځوکښی یو او بل سره وپیژنی چی دفلانکی خاندان څخه دی هغه دفلانکی قوم څخه دی. خاندان او قوم دعزت او شرف نه دی، نوبیا عزت او شرافت په څه شی کښی دی؟ مخ ته ارشاد فرمائی

﴿اِنَّ اَکْرَمَکُمْ عِنْدَاللّٰہِ اَتْقٰکُمْ﴾

او دالله تعالیٰ په نزد عزت مند هغه دی ځوك چی ډیره تقویٰ اختیار کړی ځوك چی ځومره ډیر تقویٰ داره دی دالله تعالیٰ په نزد هغومره ډیر عزت مند دی.

# په جنت کښې هيڅ صوبه نسته

په خانقاه کښې دامريکا، کينيډا، برطانيه، فرانس، رى يونين، بنګله ديش، برما، هندوستان، افغانستان وغيره دڅو ملکو خلګ يوځاى وه چې دخپل اصلاح دپاره دحضرت والا په خدمت کښې راغلى وه. دغه رنګه دپاکستان دڅو صوبو (ولايتو) خلګ هم وه ددوى په ليدو سره حضرت صاحب ارشاد وفرمائلى چې داسلام دحقيقت يوغټ دليل دى چې تور، سپين، غنم رنګى دهر رنګ خلګ جمع سوى او دلته درنګ او ژبى هيڅ فرق نسته ځکه چې په جنت کښې هيڅ ملك او هيڅ صوبه نسته هلته نه فرانس سته نه امريکا نه هندوستان نه بنګله ديش نه پنجاب نه سنده نه بلوچستان نه افغانستان سته نه کندهار نه کابل سته نه مزارشريف لهٰذا څوك چې جنت ته ځى دهغو په زړو کښې قوم پرستى نه وى، هم دغه نښانى ده چې دا جنتى خلګ دى او په جنت کښې به د ټولو ژبه عربى وى او چا چې عربى نه ئى ويلې الله تعالىٰ بې هغه ته وروښوى هر جنتى به عربى وائى.

هلته به قومیت، صوبائیت، لسانیت نه وی چی پنجاپئ به پنجاپی وائی، سندهئ به سندهی وائی د ګجرات دا به ګجراتی وائی، کندهاری به پښتو وائی، کابلی به فارسی وائی، اُزبك به اُزبکی وائی، تاجك به تاجکی وائی بلکه هلته به ټوله عربی وائی.

رسول اللّٰه ﷺ وفرمائل چی اللّٰه تعالیٰ ارشاد فرمائی

﴿ وَجَبَتُ مَحَبَّتِیُ لِلُمُتَحَآبِّیُنَ فِیَّ وَ الُمُتَجَالِسِیُنَ فِیَّ وَ الُمُتَزَاوِرِیُنَ فِیَّ وَ الُمُتَبَاذِلِیُنَ فِیَّ ﴾

(مؤطا مالک، باب ما جآء فی المتحابین فِیَّ )

زما محبت دهغه خلګو دپاره واجب سی څوك چی زما په خاطر په خپل مینځ کښی محبت سره کوی، دهغو په مینځ کښی دمحبت سبب زه یم نه خپلوی، نه قرابت، نه کاروباری شراکت هیڅ رقم دوستی ئې نسته، نه ملکی، نه علاقائی، نه دژبی، څوك انګریزی وائی، څوك عربی وائی، څوك اردو، څوك پښتو وائی، څوك فارسی، څوك اُزبکی وائی، څوك تاجکی مګر زما په خاطر یو دبل سره محبت کوی نو دوی ته خپل محبت عطاء کول پر

www.khanqah.org

ما واجبيږی. دقيامت په ورځ به اعلان وسی **اَيۡنَ الۡمُتَحَابُّونَ فِیَّ** چيری دی هغه خلګ چی په دنيا کښی ئې زما په خاطر په خپلو مينځو کښې محبت سره کوی هغه خلګ دی زما دعرش وسايی ته راسی. نو معلوم سول چی دجنت وخاوندانو ته په جنت کښی دعرشِ عظيم کومه سايه ورپه نصيب کيږی دخدای دپاره محبت کونکو ته به هغه سايه دمحشر په ميدان کښی ورپه نصيب سی او ددوی سره به هيڅ حساب نه کيږی.

## ژبه او رنګ دالله تعالیٰ دوی ډيری لوئی نښانی دی

الله تعالیٰ نن يو علمِ عظيم راته عطاء کړی چی يوه ژبه په زړه کښی حقيره(کمه) بلل يا په ژبه سره ئې ښکاره کول په دغه کښی دکفر خطره ده. په تهانه بهون(هندوستان) کښی حضرت تهانوی رحمة الله عليه ديو سړی خط وويلی چی دبنګال څخه راغلی وؤ په هغه کښی ليکلی وه (هم بهت هانستا هے) يعنی زه ډيرخاندم ددې علاج راوښوه، دحضرت په مجلس کښی يو سړی وويل چی دابنګالئ معلوميږی، حضرت ورته وفرمايل چی ستا ددغه جملې څخه دحقارت

(کموالی) بوی رائحی چی دبنګال خلګ او دهغو ژبه دی حقیره(کم تره) وبلل لهٰذا ته ولاړسه بیرته کلمه ووایه او دوه رکعته دتوبې لمونځ وکه. لهٰذا ژبه حقیره بلل پدې خاطر حرام ده چی اللّٰه تعالیٰ فرمائی **وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ** اې دنیاوالو! ستاسی دژبو او ستاسی درنګو اختلاف زما نښانی ده او په نښانی سره پیژندنه کیږی یعنی ستاسی دژبو او رنګو اختلاف زما دمعرفت (پیژندنی) ذریعه ده.

زه د افریقه په ملك مَلاوی کښی وم یوسهار سپیانو غپل ما ودوستانوته وویل چی دحیوانانو ژبه ځکه چی اللّٰه تعالیٰ دخپل معرفت (پیژندنی) ذریعه نه ده جوړه کړی پدې خاطر دټوله دنیا دحیوانانو هم یورنګه ژبه ده. سپی که دپاکستان وی یا دافریقې وی یا دامریکې او برطانیې وی که دافغانستان بوبو به کوی او پیشی که دهر وطن وی میاؤ به وائی لاکن دانسانانو ژبی جلا دی ځکه چی هغه ئې دخپل نښانی او معرفت(پیژندنی)ذریعه جوړه وله چی خلګ اللّٰه تعالیٰ وپیژنی چی واه څنګه قدرت دی ستا چی څومره ژبی تا پیدا کړی دی.

لهٰذا یوه ژبه یا یو رنګ مثلاً توران حقیر(کم) بلل په دغه کښی دکفر اندیښنه ده. یوسړی یو لنډئی سړی ولیدی پر ویخندل نو هغه ورته وویل چی پر پیاله خاندې که دپیالې پر جوړونکی باندی، پر پیاله باندی خندل دپیالې پر جوړه ولو والا باندی خندل دی. دچا پرجوړ سوی شی باندی مسخرې کول لکه پرجوړولو والا باندی چی مسخرې کول دی. ددغه آیت په تشریح کښی دمُجَدِّدِ زمانه حکیمُ الامت لوړ ذکرسوی عمل زموږ تصدیق کوی. هرانسان که دهر رنګ وی اودهر ژبی وی په هغه کښی دخدای دوست دجوړیدو صلاحیت موجود دی، ایمان راوړی او تقویٰ اختیار کړی دخدای دوست سو. لهٰذا عقلاً هم څوك حقیر(کم تر) بلل جائز نه دی. لاکن دژبو په باره کښی په ناپوهی ډول سره شیطان کم والی په زړه کښی ورواچوی. ددې باید خاص فکر وساتل سی چی دچا کم والی په زړه کښی رانه سی.

## تعصّب(قوم پرستی) دکفر نښانی ده

ددې وروسته حضرت والا ومولاناعبدُالمتین صاحب ته وفرمایل چه په بنګله ژبه ددغه ترجمه وکه، دبنګله دیش څخه

پنځلس کسان دحضرت والا سره دعمرې ادا کولو دسعادت حاصلولو دپاره راغلی وه. دترجمې وروسته ئې وفرمايل چې وګوری! بنګله ژبی وټولو ته خوند ورکړی. خوند ئې په څه خاطر وکړی؟ په خاطر ددې چې وزړه ته ايمان داخل سو، که قوم پرستی او نفسائيت وای نو خوند به ئې نه وای کړی، په دغه خاطر زما دوستان په خپل مينځ کښی ډير محبت سره لری. موږ ټول يو اُمّت يو. رسول اللّٰهﷺ دهر ژبی نبی دی دبنګله ديشی، هندوستانی پاکستانی، افغانی، برطانوی، افريقائی، امريکائی رسول اللّٰهﷺ دټولو نبی دی، دجلا جلا ژبو خاوندانو نبی يو دی، په دغه خاطر موږ ټول يويو، چې زموږ اللّٰه يودی او زموږ رسول يودی نو موږ ټول يويو. په دغه خاطر اللّٰه تعالٰی موږ ټول يوقوم بللی يو.

﴿مَنۡ یَّرۡتَدَّ مِنۡکُمۡ عَنۡ دِیۡنِهٖ فَسَوۡفَ یَاۡتِی اللّٰہُ بِقَوۡمٍ یُّحِبُّهُمۡ وَ یُحِبُّوۡنَهٗۤ﴾

(سورۃُ المائدۃ، اٰیۃ: ۵۴)

په تاسو کښی چې څوك مرتد سی دهغه په مقابله کښی به اللّٰه

تعالیٰ یو قوم پیدا کړی چی دهغو سره به اللّٰه تعالیٰ محبت کوی او هغه به داللّٰه تعالیٰ سره محبت کوی. اللّٰه تعالیٰ قوم نازل کړی دی قومونه ئې نه دی نازل کړی ددې څخه معلوم سول چی دخدای عاشقان ټول یو قوم او یو ملت دی که څه هغه عربئ وی که عجمئ وی، سپین وی که تور وی، که څه هغه عربی وائی یا انګریزی وائی، بنګله وائی یا که اردو وائی چی هره ژبه وائی لاکن داللّٰه تعالیٰ سره محبت کونکی ټول یو قوم دی، یو اُمّت دی. پدې خاطر دژبی په اختلاف یا درنګ په اختلاف سره خپل ځان دیو او بل څخه بالا یا کم بلل کفر دی.

فرض ئې کړی که داللّٰه رسول ﷺ دغه وخت زموږ په مینځ کښی راسی نو علیه السلام خو به عربی وائی لاکن په هره ژبه کښی به ترجمان جوړ کړی. دعلیه السلام ترجمه به په هره ژبه کښی وی. معلوم سول چی هره ژبه زموږ ده. همدغه رنګه ددین یوعالم ونورو ته ددین رسولو دپاره دهر ژبی یوترجمان غواړی. پدې خاطر دژبو څخه نفرت مه کوی. دژبو څخه په نفرت کښی دکفر بوئ راځی. هره ژبه

اللّٰه تعالیٰ خپله نښانی بللې ده **وَاخۡتِلَافُ اَلۡسِنَتِکُمۡ وَ اَلۡوَانِکُمۡ** دژبو اختلاف او ستاسی درنګو اختلاف په دغه کښی زما نښانی دی. داللّٰه تعالیٰ نښانی حقیره(کم تره) بلل، دهغه څخه نفرت کول کفر دی. دژبی څخه نفرت کول یا درنګ څخه نفرت کول چی دغه تور دی هغه سپین دی دا ټوله دکفر خبری دی.

هر رنګ چی وی او هره ژبه چی وی انګریزی وی، فارسی وی، عربی وی، بنګالی وی، اردو وی، پښتو وی، اُزبکی وی، تاجکی وی ټوله داللّٰه تعالیٰ نښانی دی. پدغه خاطر داللّٰه تعالیٰ نښانی حقیره بلل، ذلیله بلل، کمتره بلل کفر دی. بس قوم پرستی او صوبائیت چی دا فلانکی دی هغه فلانکی دی پدغه خاطر فلانکی دفلانکی څخه بهتره دی دا دکفر نښانی ده او دجنت څخه دمحرومی علامه ده. کوم خلک چی جنت ته تلونکی دی هغه دقوم پرستی څخه پاك وی ځکه چی په جنت کښی درنګو او ژبو اختلاف نسته، په جنت کښی هیڅ صوبه نسته، په جنت کښی به دټولو ژبه عربی وی، ټول به عربی وائی.

اوس که څوك ووائی چی موږ خو عربی نه سو ویلای ځکه چی موږ عربی ویلې نه ده نو جواب ئې دا دی چی هلته به ئې اللّٰه تعالیٰ وروښوی دجنت نعمتونه دکارولو طریقه به اللّٰه تعالیٰ پرالهام کړی(په زړه کښی ورواچوی). دجنت نعمتونه داسی دی

﴿مَالاَ عَيۡنٌ رَأَتۡ وَلاَ اُذُنٌ سَمِعَتۡ وَلاَ خَطَرَ عَلٰى قَلۡبِ بَشَرٍ﴾

(صحیحُ البخاری، کتاب بدء الخلق، باب ماجآء فی صفة الجنة)

چی نه یوې سترګی لیدلی دی، نه یوغوږ اوریدلی، نه پر یوه زړه دهغه خیال تیر سوی لاکن کله چی داللّٰه تعالیٰ دیدار وی نوجنت به هم دچا په یاد نه وی چی جنت چیری دی او دجنت حوری چیری دی داللّٰه تعالیٰ په دیدار کښی به داسی خوند وی. اللّٰه تعالیٰ دی زموږ دټولو دبلدِ امین(مدینې) په برکت سره او دکعبې شریفی په برکت سره جنتی کیدل راپه نصیب کړی، په جنت کښی اول داخلیدل راپه نصیب کړی، اللّٰه پاك دی مو ددوږخ دعذاب څخه وساتی او جنت دی راپه نصیب کړی او دجنتی اعمالو توفیق دی راپه برخه کړی او اللّٰه تعالیٰ مودی

www.khanqah.org

ددوږخ څخه وساتی او ددوږخی اعمالو څخه مودی هم وساتی او اللّٰه تعالٰی دی زموږ بدعملی، کمزوری، خطاوی را معاف کړی. اللّٰه تعالٰی دی په خپل رحمت سره همیشه خوشحالی رابښکاره کړی او دغم څخه مودی وساتی، بې له دحق دغوښتنی څخه په خپل فضل او صرف په خپل رحمت سره دخپلی دوستی دلوړ څخه لوړ مقام راته عطاء کړې. موږته هم زموږ اولادوته هم، زموږ کوروالاؤ ته هم او زموږ کوم دوستان او احباب چی دلته نسته هغوته ئې هم ورپه نصیب کړې او دټولو مسلمانانو په حق کښی زما دعا قبوله کړې او وټولو کافرانو ته هم ایمان ورپه نصیب کړې او ولئ کامل ځنی جوړ کړې، خپل رحمت پرټوله عالم واوروې ماهیانو ته په اُبو کښی، حیوانانو ته په ځنګلو کښی او مرغانوته په هواؤ کښی عافیت ورپه نصیب کړې پر ټول عالم باندی درحمت باران واوروې.

**وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ بِرَحْمَتِكَ يَآ اَرْحَمَ الرّٰحِمِيْنَ**

www.khanqah.org

# زموږ پیژندنه

ښه پدې پوهسی چی زموږ پیژندنه په ژبه، رنګ، سیمه او قوم سره نه دی بلکه زموږ پیژندنه مسلمان کیدل دی. په یو غزا کښی رسول اللّٰه ﷺ پر یوقوم باندی راتیریدی. علیه السلام دهغو څخه پوښتنه و کړه چی

**﴿مَنِ الْقَوْمُ﴾**

ستاسی قوم څه دی؟ نو هغو جواب ورکړی چی

**﴿نَحْنُ الْمُسْلِمُوْنَ﴾**

موږ ټوله مسلمانان یو.

(سنن ابن ماجه، کتابُ الزهد، باب ما یرجی من رحمة اللّٰه یوم القیامة ص۳۱۸)

ازاِرشادات

شیخ العرب والعجم عارف باللّٰه حضرت اقدس مولانا شاه حکیم محمد اخترصاحب دامت برکاتهم

www.khanqah.org